# شريعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤١٠ ګڼه / پنجشنبه ١١ رمضان‌الکریم ١٤٤٥ هـ.ق / ٠٢ حمل ١٤٠٣ هـ.ش / ٢١ مارچ ٢٠٢٤ میلادي


## فراه کې د ۳۹ ښوونځیو ودانۍ بیاورغول شوې

د فراه ولایت د پوهنې ریاست مسوولینو خبر ورکړی، چې په دغه ولایت کې د ۳۱ میلیونه ۱۸۹ زره افغانیو په لګښت د ۳۹ ښوونځیو ودانۍ بیارغول شوې دي. د مالوماتو له مخې دغه د ښوونځیو یادې ودانۍ د پوهنې ریاست د داخلي بودجې د ۸ میلیونه ۹۳۲ زره افغانیو په لګښت د ۱۷ ښوونځیو د بیا رغولو ترڅنګ، د یو میلیون ۴۶۶ زره افغانیو په لګښت د یاد ریاست ودانۍ او د ساتونکو ځانګړې خونه او د ناستو تالار هم رغول شوی دی. د یاد ولایت د پوهنې ریاست مسوولین وایي، چې د تېر کال په بهیر کې د فراه ښار په ګډون په یو شمیر ولسوالیو کې یونیسف د ۲۰ میلیونه افغانیو په لګښت، د اتو ابرار مؤسسې د ۲۰ زره ډالرو په لګښت، د اتو او ودان مؤسسې د ۶۱۳ زره افغانیو په لګښت د شپږو ښوونځیو ودانۍ بیا رغول شوي او دغه راز د یونسیار مؤسسې په مالي ملاتړ د۳۵۰ زره ډالرو په لګښت د یوه ښوونځي دوه پوړیزه ودانۍ هم تر کار لاندې ده او په نږدې راتلونکې کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

## ایټالیا په افغانستان کې د پروژو عملي کولو ته لېوالتیا ښودلې



د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي پرون ناوخته د افغانستان لپاره د ایټالیا له سفیرې ناتالیا کوینتاویل سره په داسې حال کې، چې د افغانستان لپاره د یاد هېواد ځانګړې استازي کاینفرنکو هم شتون درلود وکتل. ناتالیا کوینتاویل په دغه کتنه کې په افغانستان کې د امنیت پر ټینګښت او د اسلامي امارت پر لاسته راوړنو، چې دغه هېواد ته د سفر پر مهال یې یادې لاسته راوړنې لېدلي، خوښي څرګنده کړه. هغې له افغانستان سره د ایټالیا د مرستو دوام ته په اشارې وویل چې ایټالیا په افغانستان کې ۵مخ

### رئیس بانک مرکزی در دیدار با سفیر ایتالیا:

## روی توسعه‌ای بانک‌داری اسلامی به‌بحث پرداخت



هیأتی به رهبری هدایت‌الله بدری، سرپرست بانک مرکزی با خانم نتالیا سفیر ایتالیا در امور افغانستان و هیأت همراه‌شان، دیدار نمودند. در این دیدار، رییس بانک مرکزی در پیوند به وضعیت اقتصادی کشور، عوامل حفظ ثبات افغانی، وضعیت سکتور بانکی، توسعه بانک‌داری اسلامی، توسعه خدمات مالی و شماری از موضوعات مرتبط بحث و تبادل‌نظر نمودند. به گفته آقای بدری، ص۵

## بغلان کې د قومونو ترمنځ د یووالي په رامنځته کېدو ټینګار وشو



د بغلان ولایت مقام په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې ویلي، چې د دې ولایت والي مولوي عبدالرحمن حقاني د اندراب درې ګونو ولسوالیو له قومي مشرانو سره په ناسته کې د هغو د ستونزو د حل د ډاډ ترڅنګ وویل، چې په هېواد کې میشت قومونه باید هڅه وکړي چې په خپلو کې یووالي په ډاډمن ډول سره وساتي او هغو ډلو ته چې د بېلابېلو قومونو ترمنځ د نفاق رامنځ ته کولو هڅه کوي اجازه ورنه کړي. د بغلان والي قومي مشرانو ته په خطاب کې وویل، چې اسلامي امارت د ټولو افغانانو ګډ کور دی او د وطن ابادول د ټولو هېوادوالو هېوادنی مسؤلیت دی چې برخه پکې واخلي. د اندراب ۵مخ

## د پکتیا وضعیت وارزول شو




ملي دفاع وزارت، د وضعیت ارزونې په موخه پکتیا ولایت ته د وسله وال پوځ د لوی درستیز مرستیال د سفر خبر ورکړی دی. یاد وزارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي چې د ملي دفاع وزارت د مشرتابه د لارښوونې پر بنسټ د هېواد د وسله وال پوځ د لوی درستیز مرستیال مالي خان صدیق د وضعیت ارزونې په موخه د پکتیا ولایت ډنډ پټان ولسوالۍ ته سفر وکړ او هلته یې د ډیورنډ پر فرضي کرښه کې د ملي اسلامي اردو منسوبینو د پوستو څخه لیدنه وکړه. سرچینې زیاته کړه، پاکستاني لوري ۵مخ

## برای ۸۴۸ خانواده در دایکندی پول نقد توزیع گردید

برای ۸۴۸ خانواده در ولسوالی کیتی ولایت دایکندی پول نقد توزیع گردیدریاست زراعت، آبیاری و مالداری ولایت دایکندی برای ۸۴۸ خانواده در ولسوالی کیتی برای دور دوم در همکاری موسسه میدایر پول نقد توزیع نمود. این کمک‌ها از طریق پروژه پاسخ اضطراری برای ارائه کمک‌های غذایی ضروری و کاهش خطرات ناشی از حوادث طبیعی برای جوامع آسیب پذیر از طریق موسسه میدایر در ولسوالی کیتی بعد از سروی و شناسایی افراد تحت نظر هیئت ترکیبی از ادارات ذیربط توزیع گردید قابل ذکر است که برای هر خانواده مبلغ ۸۷۵۰ افغانی توزیع گردیده است. ص۵

## د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ پر بېلابېلو موضوعاتو خبرې وشوې



د بلخ په حیرتان بندر کې د افغانستان او ازبکستان هېواد اقتصادي مسوولینو او ګډ پلاوي د یوې غونډې په ترځ کې د اقتصاد، ترانسپورټ، سوداګرۍ، او عامو وګړو ته د ویزو د ورکړو، د تېلو او ګازو، د ډېرو سکرو د استخراجولو او یوشمېر نورو موضوعاتو په اړه بحث او خبرې وکړې. د هېواد د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست نورالدین عزیزي په دې غونډه کې وویل: « د ټولو دولتي مسوولینو یوازنی هدف دا دی، چې په سرحدونو کې له ګاونډیو هېوادونو سره اقتصادي اړیکې پیاوړې کړو، د اسلامي ۵مخ

### په اسلام کې د نرمۍ او سختۍ پالیسي

۲ مخ

### د مدرسو په نصاب کې د تاریخ علم ولې اړین دی؟

۳ مخ

### خصوصیات اشعار ناصر خسرو بلخی

ص۴

### سرمقاله

## د غزې له مقاومته باید موږ هم درس واخلو!

له تیرو څو میاشتو راهیسې پر کوچنۍ غزه د نیمې یهودي او صلیبي نړۍ د بمونو او توپونو باران اوري، شپه ورځ اورونه، اوسپني اونور سوځونکي اوزهري وژونکي مواد وربانديې پاشل کیږي او دګردې نړۍ خصوصاً خپلو عربو مسلمانو ورونو تر سترګو لاندې یې هره ورځ په سلګونو تنکي ماشومان، ښځې، زاړه او رنځوران په یو مخیزه توګه وژل کیږي، کورونه یې ورانیږي او شړل کیږي. تر دې چې اوسه پورې یې شپږویشت زره کسان په شهادت رسېدلي، اووه زره یې تر خاورو او چتونو لاندې ورک دي او شپېه سلنه یې ودانۍ له منځه تللې. په دې کې شک نشته چې اسرائیل او ملګري یې د غزې پاتې ودانۍ هم نړولی او تردې لا زیات عام وګړي هم وژلی شي. خو په هر صورت اوس داسې ښکاري چې همدغه بدماشه یهودیان حماس ته د اوربند وړاندیزونه کوي. معنا دا چې د غزې په همدغه وړه جغرافیه کې د حماس غونډې یوه ټولګي د مقاومت او مهارت پایله دا شوه چې انتهایي پر مختللي وسلوال ځواکونه یې شاتګ ته اړوېستلي دي. په غزه کې د مجاهدینو روان مقاومت که څه هم ښایي د افغانانو له مقاومت او بریا به یې خامخا څه روحیه اخیستې وي خو څرنګه چې د دوی سیمه خورا وړه او بیا کلکه محاصره هم ده، نو له همدې امله موږ ته هم په کار ده چې ۵مخ

### وزارت زراعت:

## در سال ۱۴۰۲ خورشیدی ۳۵ میلیون متریک تُن تخم‌های اصلاح‌شده به دهقانان توزیع شد

وزارت زراعت، آبیاری و مالداری می‌گوید، با وجود خشک‌سالی‌ها در کشور، در نتیجه مدیریت سالم در دو سال گذشته، افغانستان در عرصه زراعت پیشرفت‌های چشم‌گیری داشته و در راستای تولیدات میوه‌ها و مواد غذایی در جهت خودکفایی گام‌های مؤثری برداشته است. به گفته مسوولان این وزارت، در سال ۱۴۰۲ خورشیدی ۳۵ میلیون متریک تُن تخم اصلاح‌شده گندم برای دهقانان توزیع شده که این رقم در سال آینده به ۵۰ میلیون متریک تُن افزایش خواهد یافت ۵مخ

## د اداراتو او موسساتو ترمنځ د ښې همغږۍ په موخه غونډه

دخوست ولایت دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست چارواکي وایي، چې ددې ولایت دکرنې ریاست سره د همکارو بنسټونو، مؤسسو او نهادونو سره سکټوري غونډه کې، پر بېلابېلو موضوعاتو خبرې اترې وشوې. دغونډې په پیل کې د خوست دکرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رییس مولوی محمدزمان عمري دتېر سکټوري غونډې د ورسپارل شویو اجرااتو لنډه کتنه وکړه، وروسته دسکټوري غونډې د جوړولو پر اهمیت او هم دسکټوري غونډې پر بنا د اړوند ۵مخ

## د چین سفارت د کابل پوهنتون مخکښ زده‌کړیالان وستایل

په کابل کې د چین سفارت پرون د یوه پروګرام په لړ کې د کابل پوهنتون غوره زده‌کړیالان، د بورسیې او د نغدي جایزو له ورکړې سره وستایل. کابل کې د چین سفارت سفیر جاو شینګ ویلي چې د چین سفارت په افغانستان کې له لوړو زده‌کړو ملاتړ کوي. نوموړي ویلي، هېواد یې ژمن دی چې له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې خپلو مرستو ته دوام ورکړي. د کابل پوهنتون رییس اسامه عزیز د کابل پوهنتون مخکښو محصلینو ته د چین د سفارت له خوا د جایزو د ورکړې ۵مخ

## هلمند کې د دولتي ځمکو د غصب مخنیوی وشو



د هلمند په مرکز لښکرګاه او ۳ ولسوالیو کې د ۹۹۰ جریبه دولتي ځمکې د غصب مخه نیول شوې ده. د هلمند د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست په هڅو او د اړوندو کرنیزو خدمتونو مدیریتونو په همکارۍ په تېرو دوو ورځو کې د لښکرګاه ښار په ګډون د ناوې، نهرسراج او واشېر ولسوالیو کې د ۹۹۰ جریبه دولتي ځمکې ۵مخ

# په اسلام کې د نرمۍ او سختۍ پالیسي

**مولوي نورالحق مظهري**

اسلام د اعتدال او میانه روۍ دین دی او په هېڅ شي کې افراط او تفریط ته اجازه نه ورکوي ځکه نو د انسانانو حالاتو او طبیعتونو ته په کتو یې د آسانۍ او سختۍ دواړې پالیسۍ ایښي او د کائناتو د نظام خوندي کېدلو او انساني بې بندوباریو د مخنیوي لپاره یې دعوت او جهاد دواړه مشروع کړي لکه رسول الله (ص) چې فرمایي: أنا نبي الرحمة، أنا نبي الملحمة. [السیاسة الشرعیة] ژباړه: زه د رحمت نبي یم، زه د جنګ نبي یم.

له دې څخه هدف دا دی چې زه رحمت هم یم او نرمي کوم همدا راز جنګونه هم کوم.

له همدې امله چې اسلام د اعتدال او میانه روۍ دین دی،نو دواړو جهتونو ته په کې خاصه پاملرنه سوېده؛ هم د نرمۍ لوري ته او هم د سختۍ او جنګ لوري ته.په کومو ځایونو کې چې نرمي او دعوت ګټور واقع کېږي هلته دې د نرمۍ څخه کار واخیستل سي او په کومو ځایونو کې چې جنګ او سختۍ ته اړتیا پیدا کېږي هلته دي بیا جنګ وسي؛ د همدغه حکمت پر اساس په اسلام کې جهاد مشروع سوی،تر څو د زورواکو انسانانو سره د زور په ژبه خبره وسي؛ همداسې شرعي حدود او تعزیرات مشروع سوي تر څو نا اهله او لنډغر انسانان د مجازات له ویرې پر لاره باندي برابر سي.که د رسول الله (ص) او اصحابو رضي الله عنهم سیرت ته ښه وګورو دا به راته ثابته سي چې دوی د اسلام د ارزښتونو، د مسلمانانو د واک او رعب ساتلو لپاره څنګه اخلاق غوره کړي وه! د حق څخه یې څنګه دفاع کول او د هر ډول باطل سره په مبارزه کې څومره جدي وه!

کفارو ته دعوت، په وړاندې یې زغم او حوصله مندي د رسول الله (ص) د حکمت او مصلحت نرمه پالیسي وه او بیا جهادونه ، مبارزې او سختي ګالل د کفري باطل په وړاندې د رسول الله (ص) د جدیت پوره ښکارندویي کوي؛ همداسې د نورو ګناهونو او جرمنو په وړاندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تونډ غبرګون د هر ډول فساد سره د رسول الله (ص) سخت مخالفت او په مبارزه کې جدیت په ډاګه کوي.

مشهوره کیسه ده،چې د رسول الله (ص) په زمانه کې یوې مخزومي ښځې غلا کړې وه د هغې قوم د شفاعت لپاره اسامه بن زید رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم وسلم ته واستوي تر څو له دې څخه حد ساقط کړي کله چې اسامه رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره خبره وکړه هغه ورته وویل: آیا ته په یو حد کې د حدودو د الله شفاعت کوې؟ بیا ولاړ سو خطبه یې وویله او ویې فرمایل: ای خلکو ستاسو مخکې خلک ځکه ګمراهان سوه چې کله به په دوی کې غښتلي کس غلا وکړه، دوی به پرېښود (حد به یې وربانـدي نه جاري کاو) خو کله چې به په دوی کې ضعیف کس غلا وکړه بیا به یې حد وربانـدې جاري کاو، زما دې د الله په ذات قسم وي که د محمد(ص) لور فاطمه غلا وکړي لاس به یې پرې کوم.[صحیح البخاري۶۷۸۸]

د دې کیسې څخه له ورایه ښکاري چې رسول الله (ص) د باطلې واسطې پر وړاندې چې د جاهلیت د زمانې یو منکر وو څومره تونډ عکس العمل ښکاره کړ! او څومره ژر یې خپل صحابه تنبیه کړه!.

په ډېرو احادیثو کې راځي چې کله به رسول الله (ص) کوم منکر ولید،نو دومره به په خښم سو چې آثار د خښم به یې پر مبارک مخ باندې ښکاره سوه.

د زکات د مانعینو پر وړاندې د حضرت ابوبکر رضي الله عنه تونډ غبرګون او هغه خلکو ته چې په مسجد النبي کې یې چیغې وهلې د حضرت عمر رضي الله عنه خښم او قهر د هر ډول باطل په وړاندې د صحابه وو رضي الله عنه د جدیت ښکاره بېلګې دي.

موږ هم که غواړو په تمامه معنی د رسول الله (ص)، صحابه وو او خپلو صالحو سلفو لاره تعقیب کړو باید د شرعي حکمت او مصلحت په مراعات کولو سره د هر ډول باطل په وړاندې جدي وسو او پر ضد یې داسې مبارزه وکړو لکه هغوی چې کوله.

# غـزه به کمـک ِقـدرت‌های نیـرومـنـد مسلمانان نیاز دارد

**سیف‌الدین احمدی**

وقتی به وضعیت کنونی مسلمانان در غزه و قتل‌عام اطفال، زنان و غیرنظامیان در آنجا دیده می‌شود خون در رگ‌های انسان خشک می‌گردد، که چرا قدرت‌های نیرومند مسلمانان در برابر این جنایت خاموش نشسته و هیچ گونه اقدام عملی را از خود انجام نمی‌دهند؟ شدت حملات در جغرافیای محاصره شده‌ی غزه چنان است که قسمت‌های شمالی آن را به خاک یکسان کرده است.

گزارش‌های مستند و تایید شده نشان می‌دهد که اشغالگران یهود افزون بر نابود کردن اکثریت ساختمان‌ها در غزه، از بمب‌های خوشه‌ای و فاسفورس سفید برای از بین بردن مردم استفاده می‌کنند. جسدهای سوخته و نشانه‌های مخرب در اجساد اطفال، زنان و غیرنظامیان ناشی از استفاده‌ی بمب‌های ممنوعه‌ای کیمیاوی است که بی‌وقفه بالای مردم بی‌دفاع غزه از سوی اشغالگران یهود استعمال می‌شود. جای تعجب این‌که یهودیان اشغالگر در این جنایت و قتل‌عام تنها نیستند، بلکه قدرت‌های بزرگ غربی همچون امریکا، انگلیس، فرانسه، آلمان و... با صراحت حمایت و همکاری نظامی و تسلیحاتی شان را از یهود اعلام کرده‌اند. مگر رهبران مسلمان چنان اند که گویی هیچ اتفاقی نه افتاده است!

اشغالگران یهود افزون بر غزه در مناطق اشغالی کرانه‌ی باختری رود اردن و در اطراف بیت‌المقدس به جنایت خود علیه غیرنظامیان ادامه داده و همه روزه دست به بازداشت و کشتار غیرنظامیان می‌زنند. تا جایی که در بسیاری موارد خانه‌های مسلمانان را با بیلدوزرها تخریب و با مواد منفجره، انفجار می دهند.

همچنان حاکمیت سیاسی یهود برای ادامه‌ی جنایات شان به تمام غیرنظامیان یهود اسلحه توزیع نموده است، و این روند را نیز قانونی ساخته‌اند. اما مسلمانان حقِ داشتن سلاح و یا هیچ نوع وسایل را ندارند تا از خود به دفاع بپردازند. در همین راستا «ایتامار بن گویر» وزیر امنیت ملی یهود، هزاران سلاح را برای شهرک نشینان یهودی توزیع کرده است. وی تمام یهودیان را تشویق نموده تا تیم‌های امنیتی غیر از نیروهای نظامی را در شهرک‌ها و محلات شان تشکیل دهند.

در واقع مسلمانان فلسطین در سرزمین شان بدون جنگیدن، از سوی یهود حکم کشتن را دریافت کرده‌اند. این جنایت به ویژه از آغاز حملات طوفان‌الاقصی تاکنون همه روزه افزون بر غزه، در سرتاسر کرانه‌ی باختری از سوی شهرک‌نشینان یهودی و نیروهای نظامی یهود جریان دارد.

وقتی وضعیت در فلسطین به ویژه در غزه دیده می‌شود و بعد فریادِ اطفال، مادران و پدران را می‌شنویم، گویی که خون در بدن انسان می‌خشکد که چرا آن‌ها تنها رها شده و در سرزمین‌شان قتل‌عام می‌شوند؟ اما بیش از دو میلیارد مسلمان و بیش از ۵۰ کشور اسلامی برای دفاع از برادران و خواهران شان در برابر یک مُشت یهودیان اشغالگر، هیچ گونه اقدام عملی نمی‌کنند؟ در حالی که کشورهای مصر، اردن، سوریه، لبنان، سعودی، ترکیه و... با قدرت نظامی قوی در همسایگی و اطراف یهود حضور دارند.

آیا این نامه و فریاد خواهر مسلمان فلسطینی را که برای برادران مسلمان شان در افغانستان فرستاده و با صدای مظلومانه خواستار نصرت و یاری شده است را شنیده‌اید؟

«ای اهل افغانستان ما را کمک کنید! تمام جهان بر ضد ما برخاسته و به ما خیانت می‌کنند، تمام جهان ما را فروخته، تمام جهان در یک صف ما را محاصره کرده و به قتل می‌رسانند. ما به کمک‌تان نیاز داریم؛ ما را تنها نگذارید. امریکایی‌ها، آلمانی‌ها، فرانسوی‌ها، انگلیس‌ها و در کل غربی‌ها همه بر علیه ما برخاسته و با سلاح و تجهیزات نظامی از اشغالگران یهود دفاع می‌کنند. مگر به الله متعال قسم که از آن‌ها نمی‌ترسیم؛ و در راه الله متعال از هیچ ملامتِ ملامت‌گری در هراس نیستیم، و از هیچ کسی جز الله متعال ترسی نداریم. اما باید برای یهود نشان دهیم که ما تنها نیستیم. امت اسلامی قهرمان‌هایی دارد که راه و مسیر رسول‌الله صلی‌الله‌علیه‌وسلم و اصحابش را دنبال می‌کنند. یهودیان در سرزمین مقدس راه‌های ما را کثیف کرده و رسول‌الله صلی‌الله‌علیه‌وسلم را دشنام می‌دهند، زنان را در مسجدالاقصی لت‌وکوب می‌کنند، و سرانجام دیدید که بیت‌المقدس را پایتخت خود اعلان کردند. اما امت اسلامی ما را تنها رها کرد، که تا این سرحد رسیدیم. ما الله متعال را سپاسگزاراریم، و به مجاهدین خود فخر می‌کنیم؛ الله متعال برای‌شان برکت دهد که ما را در مقابل کسانی حمایت می‌کنند که بر ما ظلم روان می‌دارند...»

واقعاً اگر احساس و ایمان به اهمیت فلسطین و بیت‌المقدس و نیز اهمیت دفاع از عزت، جان و مالِ مسلمانان را داشته باشیم، این فریاد خواهر فلسطینی، خون را در بدن می‌خشکاند. چگونه در حالی که آن‌ها را قتل‌عام می‌کنند ما آسوده باشیم؟ چگونه به سرزمین، مقدسات و عزت مسلمانان تجاوز شود ما آرام باشیم؟! در حالی که الله متعال می‌فرماید: ترجمه: پاک است آن ذاتی که بنده خود [رسول‌الله] را شب‌هنگام از مسجدالحرام به مسجدالاقصی – مسجدی که دور و بر آن را با برکت ساخته– برد...! [اسراء : ۱]

در واقع فلسطین زمانی که الله متعال بیت‌الحرام را به بیت‌المقدس پیوند داد از قضایای سرنوشت‌ساز و ایمانی برای مسلمانان اهمیت پیدا کرد. از این‌رو قضیه‌ی فلسطین قضیه‌ی تحلیل و تیوری توطئه نیست، بلکه قضیه‌ی ایمان، تقوا و جهادِ نیروهای مسلح برای رضای الله متعال می‌باشد. قضیه‌ی فلسطین قضیه‌ی رهایی از وهن، حب دنیا و ترس از مرگ است. به همین خاطر حمله به آن تنها حمله بر جسم و جانِ مردم مظلوم فلسطین نیست، بلکه حمله بر جغرافیا، هویت اسلامی، نخستین قبله‌ی مسلمانان، سرزمین اسراء و معراج و حمله به عقیده و ایمان مسلمانان است.

در حال حاضر قضیه‌ی فلسطین همچنان نقطه‌ی تقابل جهان میان اسلام و کفر شده است، و مسأله قدس ما را به میدان امتحانِ قلب‌ها و تصفیه‌ی صفوف سوق داده که چه کسی و در کدام صف ایستاده و می‌ایستد. امام مسلم از عبدالله ابن عمر رضی‌الله‌عنه روایت می‌کند که رسول‌الله صلی‌الله‌علیه‌وسلم فرمودند: «تُقَاتِلُكُمْ الْيَهُودُ فَتُسَلَّطُونَ عَلَيْهِمْ، ثُمَّ يَقُولُ الْحَجَرُ: يَا مُسْلِمُ، هَذَا يَهُودِيٌّ وَرَائِي فَاقْتُلْهُ» ترجمه: یهودیان با شما می‌جنگند و شما بالای آن‌ها غالب می‌شوید، تا آن‌که هر سنگی بالای مسلمان فریاد می‌زند که ای مسلمان! این‌جا یک یهودی در عقب من پنهان شده است، بیا او را به قتل برسان!

مسلمانان در هر عصری امتحان و ابتلایی را پشت سر گذرانیده‌اند که باید به شکل دسته‌جمعی در آن پیروز شوند، اما در حال حاضر بزرگ‌ترین ابتلای مسلمانان آزادسازی مردم بی‌دفاع فلسطین از قتل‌عام یهود و ریشه‌کن ساختن یهود از سرزمین مبارک می‌باشد. بلی! اقصی قلب‌ها را امتحان خاینان را افشا و دشمنان اصلی امت اسلامی را که غرب کافر می‌باشد برملا ساخته است. آن‌ها در افغانستان و عراق شکست خورده و رسوای جهان شدند، اما در حال حاضر در فلسطین از جاری ساختن دریای خون حمایت می‌کنند. پس کجاست آن نصرت، کمک و یاری قدرت‌های نیرومندِ مسلمانان که برای دفاع از عزت، جان و مال این امت بپردازند؟

# اسلامي امت ولې په مسکنت کې ژوند کوي!؟

**امین الله احساس**

په دې ټول پوهېږو چې د اسلامي امت اوسنی وضعیت په تاریخي لحاظ له ټولو ناوړه او له ذلته ډک حالت دی؛ اسلامي امت متفرق دی، له یو بل سره په اختلافونو کې ډوب دی او حتی له یو بل سره سختې دښمنۍ پالي. اسلامي خاورې امریکا، اروپا او روسیې په خپلو منځونو کې داسې وېشلې ، چې ته به وایې دا خاورې خپل مالک او څښتن له لاسه ورکړې او یا له سره څښتن نه لري. د اسلامي خاورو تېل، ګاز، یورانیم او نور خام کاني توکي د همدغو زبرځواکو حکومتونو لخوا یا چور او تالان کېږي او یا په کمو پیسو رانیول کېږي او د دوی په پرمختګ او ښېرازۍ کې مصرفېږي. حتی همغه تېل چې غرب یې له اسلامي خاورو استخراجوي، بېرته د غرب جګړه ییز ماشین په خوځښت راولي چې له امله یې هره ورځ په اسلامي خاورو کې په لسګونه ماشومان، ښځې، سپین ږیري او بې ګناه مسلمانان وژل کېږي. څو کاله وړاندې د افغانستان، عراق او سوریې او اوس د غزې ناورینونه د دغې خبرو ښه ثبوتونه دي. په غزه کې یهودو داسې وحشت جوړ کړی لکه څنګه چې په صلیبي جګړو کې اروپایانو پر فلسطین جوړ کړی و. د صلیبي جګړو پر مهال ټولې اروپا فلسطین ته حشر کړی و او اوس هم ټول غرب د اسرائیلو مرستې ته رادانګلي او هر ډول مالي، لوجیستیکي او تجهیزاتي مرسته ورسره کوي. په ورته وخت کې د اسرائیلو تېل، د څښاک اوبه، خوراکي توکي او تجارت له ګاونډیو اسلامي خاورو لکه ترکیې، عراق، اردن او نورو هېوادونو څخه تامینېږي. همدا اوس چې د غزې ماشومان او مېرمنې د یهودو په بمباریو کې لوټه کېږي؛ د یهودو ۴۰ سلنه تېل له اذربایجانه د ترکیې له لارې اسرائیلو ته انتقالېږي. همدارنګه د یهودو د څښاک زیاته برخه پاکې اوبه له اردنه ورځي. د دې ترڅنګ د ترکیې حکومت د یهودو لوی سیمه ییز تجارتي شریک دی. غرب هر وخت چې وغواړي د اسلامي امت له پراخې وېشل شوې جغرافیې پر یوه جغرافیه پوځي برید کوي او د هغې سیمې مسلمانان وژني او هر ډول ظلم یې چې خوښ وي وربانـدې کوي یې او نورې اسلامي خاورو مشران او اوسېدونکي یې یوازې سیل کوي او که غواړي چې خواخوږي ورسره وکړي، نو تشې دعاوې ورته کوي،نو د اسلامي امت اوسنی وضعیت رښتیا هم د مسکنت او ذلت وضعیت دی. د دې ټولو مصیبتونو یو اساسي لامل خپله اسلامي امت دی. په دې اړه الله سبحانه وتعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي:

ژباړه: هر مصیبت چې تاسو ته در رسېږي، هغه ستاسو د خپلو لاسونو له امله دی [شوری: ۳۰]

همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمایي:

ژباړه: دغه کړاوونه او عذابونه تاسو په خپلو لاسونو مخکې تقدیم کړي او الله پر خپلو بندګانو کله هم ظالم نه دی. [ال عمران: ۱۸۲]

د پورتنیو ایتونو پر بنسټ یو قوم او یا یو امت د خپلو بدو کړنو، غلطو سیاسي اجنډاو او غلطو تقدیمونو له امله په کړاوونو او مصیبتونو کې اخته کېږي. د اسلامي امت اوسنی د مسکنت او ذلت څخه ډک حالت هم د اسلامي امت د جمعي تقدیم له امله دی. له شک پرته چې اسلامي امت په عذاب او کړاوونو کې ژوند کوي او دا د اسلامي امت په نېږدې ۱۵۰۰ کاله ژوند کې یو له ناوړه او له کړاوونو ډک وضعیت دی. غرب ځکه وربانـدې لاسبری دی چې اسلامي امت خپلو امورو ته پاملرنه نه ده کړې او غفلت یې کړی دی. غرب یې ځکه هر وخت تر خپلو پښو لاندې کولی شي او په اسانۍ یې ځملولی شي چې اسلامي امت ځان نه دی پیاوړی کړی او هغو برخو ته یې توجه نه ده کړې چې هغه یو امت او یو قوم پر پښو درولی شي. اسلامي امت ځکه په اسانه ښکېلاک کېږي، چې د یوه واحد امت په توګه نه دی راڅرګند شوی، بلکې تر اوسه د بریتانوي ښکېلاک استعماري پولې لکه ربجوې، مکمهان، ډیورېنډ او داسې نورې پر خپل ځای پرتې دي. اسلامي امت ځکه د غرب تر پوځي، سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ښکېلاک لاندې دي چې د الله سبحانه وتعالی پر ځای یې امریکا، غرب او د ملګرو ملتونو سازمان د خپل ولي په توګه نیولي او د ستونزو د حل لپاره امریکا او امریکایي نړیوالو سازمانونو لکه د ملګرو ملتونو سازمان، نړیوال بانک او د پیسو نړیوال وجهي صندوق ته مراجعه کوي. اسلامي امت ځکه پرمختګ نه شي کولی او ځکه نه شي پیاوړي کېدلی، چې د اسلامي حل لارو پر ځای د لبرال ډیموکراسۍ حل لارو ته یې مخه کړې ده،نو بلا نورې ستونزې او کړاوونه د اسلامي امت د خپلو بدو او ناوړه تقدیمونو له امله دي. حل لاره هم واضحه ده؛ الله سبحانه وتعالی او د هغه وحې ته بېرته ورګرځېدل دي او پر ټولو هغو سیاستونو او تګلارو له سره غور کول دي چې د الهي شریعت سره په ټکر کې دي او د امت د بدبختیو او کړاوونو لامل ګرځېدلي دي. مګر دا چارې باید اسلامي امت په جمعي او ټولیزه توګه وکړي، نه په انفرادي توګه، ځکه چې مصیبت جمعي دی.

# د مدرسو په نصاب کې د تاریخ علم ولې اړین دی؟

قاري عبدالستار سعید

زموږ د مدارسو په نصاب کې یو لوی کمی د تاریخ د علم نه شتون دی. د بشر، نړۍ او اسلامي نړۍ عام تاریخ خو څه، بلکې زموږ د تاریخ د یوې ډیرې مهمې مرحلې (سیرة النبي) په اړه هم طالبانو ته کمه زده کړه نه ورکول کیږي. که کوم طالب په خپل شوق او علاقه سره د تاریخ مطالعه وکړه، خو ډېر ښه او کنه د تاریخ په اړه له کم مقدار سطحي معلوماتو پرته نور د دې مهم او جذاب علم د ژورو له ننداري بې برخې پاتې کېږي او بیا چې په خپل تحصیلي او تدریسي ژوند کې د تاریخ اړوند هره موضوع او قضیه ورته مخکې راځي، نو روښانول او فهم یې ورته سخت وي. په دې لنډه مقاله کې به د علم التاریخ د اهمیت او اړتیا په اړه وغږېږو او دا پوښتنه به ځواب کړو چې موږ ولې د خپل تاریخ زده کړې ته ضرورت لرو؟

### د تاریخ دیني اهمیت

نامتو اسلامي مؤرخ، محدث او لیکوال امام شمس الدین السخاوي( رحمه الله) د علم التاریخ تعریف داسې کړی(إن التاریخ فنٌّ یبحث فیه عن وقائع الزمان وحیثیة التعیین والتوقیت) اوس که د دې تعریف په رڼا کې موږ د قران کریم موضوعاتو او محتوی ته نظر وکړو، نو وینو چې الله تعالی په قران کریم کې بیا بیا د پخوا زمانې وقائع او د تېرو شویو قومونو قصص ذکر کړی او قصص د الهي کلام یوه عمده برخه تشکیلوي. الله تعالی د دې قصصو د راوړلو وجه هم بیان کړې لکه: { و کلا نقص علیك من أنباء الرسل ما نثبت به فؤادك } سورة هود - آیة ۱۲۰. وقال : { لقد کان في قصصهم عبرة لأولي الألباب } سورة یوسف - آیة ۱۱۱.

مفسرینو کرامو د قراني قصصو د ذکر کڼ شمېر مقاصداو فوائد بیان کړي. لکه د خلقت، توحید او پیغمبرانو د بعثت د فلسفې بیان، د پخوانیو قومونو څخه په پند اخیستلو د آخرین امت تنبیه، رسول الله (ص) ته تسلیه او د صبر او ثبات تلقین، د الله تعالی د عظیم قدرت بیانول او د بیا راژوندي کېدلو او جزاء د عقیدې اثبات لکه الله تعالی فرمایي: أو کالّذي مرّ علي قریة و هي خاویة علیعروشها قال أنّي یُحیي هذه الله بعد موتها . . . البقرة ۲۵۹

همدارنګه نبي کریم (ص) د خپل امت د اصلاح او لارښوونې لپاره ډېر ځله د پخوانیو قومونو او اشخاصو له پنده ډکې کیسې بیان کړي دي. لکه د بني اسرائیلو، پخوانیو عربو او نورو بیلابیلو خلکو عبرتناکې کیسې، چې په احادیثو کې په تکراري ډول مخې ته راځي. له دې څخه ښکاري چې د تېرې شوې زمانې د وقائعو یاد ساتل، د هغو ذکر کول او را روان نسل ته یې په ورپه زړه کول یو مهم او مفید کار دی، تر څو د تېرو انسانانو د سرګذشت او تجربو په رڼا کې د ژوند راتلونکی مسیر وټاکي.

### تاریخ زموږ خپل علم دی

اوسنی علم التاریخ هم له هغو علومو څخه دی چې اسلام په بشریت پیرزو کړی دي. له اسلام نه مخکې که څه هم د تاریخ د علم باریک څرکونه موجود و، خو دا د لومړنیو پیړیو ستر مسلمان علماء کرام وو چې تاریخ یې د یوه علم په بڼه مطرح او مدون کړ. ستر ستر کتابونه یې ولیکل. د اسلام د پیغمبر علیه السلام، صحابه کرامو او تابعینو ژوند لیکونه او د اسلام د نوراني عصر احداث یې په داسې ډول ثبت کړل چې حتی اسلام دښمنه غربي فیلسوفان یې هم دې اعتراف ته اړ کړل چې ( د اسلام پیغمبر یوازینی خدایي استازی دی چې په رڼا کې قدم اخلي. یعنې د ژوند هره پېښه او جزئي حادثه یې روښانه او په تاریخ کې ثبت شوې ده)



مسلمانو مؤرخینو په لومړۍ هجري پیړۍ کې تاریخ لیکنه د سیرت او مغازي له ثبت او تدوین څخه پیل کړه، چې ورسره یې له اسلام نه مخکې د عربو احوال، د فارس او روم د امپراطوریو وقائع او د عربو د پخواني شعر او فرهنګي میراث په شمول ډېر څه د تاریخ حافظې ته وسپارل. ورپسې چې د محدثینو دور راځي، علم الجرح و التعدیل رامنځته کېږي په دې وخت کې تاریخ نور هم اهمیت پیدا کوي او د روایاتو د صحت او سقم د ارزولو په برخه کې د یوه کومکي علم منصب خپلوي. په ورپسې پیړیو کې د ابوحنیفه الدینوری، احمد بن اسحاق الیعقوبي او ابن جریر الطبری( رحمهم الله) په شان لوی لوی مؤرخین پیدا کېږي چې په خپلو مجلدو کتابونو یې نه یوازې د اسلامي تاریخ بنسټ پوخ کړ، بلکې د ټول بشر او نړۍ تاریخ ته یې درنې قیمتې پانګې وړاندې کړې. تر دې چې په اتمه هجري پیړۍ کې د علم الاجتماع بنسټګر علامه ابن خلدون په خپلو تجدیدي لیکنو سره دې علم ته نوي اصول او حدود وضع کړل او د معاصر علم التاریخ د باني لقب یې خپل کړ.

په دې اساس ویلی شو چې علم التاریخ هغه علم دی، چې هم یې د ایجاد او هم د انکشاف او پاللو ویاړ د مسلمانانو دی او زموږ سلفو کرامو په دې برخه کې ډېر ستر ستر خدمتونه ترسره کړي دي.

### د تاریخ په اړه د سلفو موقف

زموږ پخوانیو علماء کرامو د تاریخ علم ته په ډېر ارزښت کتل او هغه یې د نورو علومو لکه علوم الحدیث حتی علم الفقه لپاره یو کومکي او مفید علم باله. په دې اړه د امام الشافعي رحمه الله دا قول کفایت کوي چې وایي: دأبت في قراءة علم التاریخ کذا و کذا سنة، و ما قرأته إلا لأستعین به علی الفقه.

علامه جلال الدین السیوطي صاحب د علم التاریخ د اهمیت بیانولو په لړ کې یوه جالبه واقعه بیان کړې او فرمایي: د عباسي خلیفه (القائم بامر الله) په زمانه کې یهودو یوه جعلي وثیقه یا سند جوړکړی و چې دا خبره یې ثابتوله چې نبي علیه السلام په همدې فرمان سره د خیبر له یهودو جزیه ساقطه کړې وه. یهودو دغه وثیقه په بغداد کې د خلیفه مشر وزیر علي بن الحسن چې په رئیس الرؤساء سره یې شهرت لاره وړاندې کړه. که څه هم رئیس الرؤساء خپله لوی عالم و خو د یهودو د سند په جعل پوه نه شو او ډېر په تعجب کې ولوېد. وروسته همدا سند د وخت لوی محدث او مؤرخ حافظ ابي بکر خطیب البغدادي ته وړاندې شو. هغه د سند په لیدلو سره وویل، چې دا جعلي او مزور دی. ځکه په دې کې د ډېرو صحابه وو شهادات ذکر شوی چې له هغو یو معاویه بن ابي سفیان دی. حال دا چې معاویه رضی الله عنه د خیبر له فتحې یو کال وروسته مسلمان شو. بل په دې کې د سعد بن معاذ رضی الله عنه شاهدي لیکل شوې، حال دا چې حضرت سعد د خیبر له غزا مخکې د بني قریظه د غزا په وخت شهید شوی و.

له دې څخه معلومه شوه چې د تاریخ علم یوازې د پخوانیو وقائعو جذاب داستان نه دی، بلکې د ډېرو نورو علومو لپاره لار روښانوونکی او کومکي واقع کېدلای شي.

### د تاریخ ګټې

علامه اقبال لاهوري وایي چې د ټولو علومو منابع درې دي

۱- مذهبي تجربه: چې د ټولو هغو علومو سرچینه ده چې د وحی، کشف او الهام له لارې حاصل شوي وي.

۲- حسي تجربه: د ساینسي او تجربوي علومو منبع ده.

۳- تاریخي تجربه: د تاریخ په اوږدو کې د انساني ژوند له لوړو ژورو مستفاد تجارب او پندونه چې ستر علمي ارزښت لري.

له دې څخه معلومه شوه چې تاریخ یوازې علم نه،بلکې د علومو سرچینه ده. د پخوانیو انسانانو تاریخي تجربې هغه مشال ته ورته دي چې په رڼا کې یې وروستني انسانان د خپل منزل لاره موندلې او د شکست او بریا، سعادت او بدبختۍ، راحت او مشقت، عروج او زوال او د ژوند د بېلابېلو اړخونو علل او عوامل موندلی او ارزولی شي.

تاریخ هغه ارشیف دی چې په هغه کې د پخوانیو قومونو افکار، نصائح،هیلې، پیغامونه او پندونه خوندي دي. په تاریخ کې موږ د امت د عروج داستان لولو او عوامل یې وینو. همداراز د مسلمانانو د اوسني محکومیت او ویرژلي حالت لاملونه هم په کې موندلی شو.

د علماوو او دیني طالب العلمانو لپاره تاریخ پوهېده ځکه ضرور دي چې د خپل عصر په حالاتو پوهېدل د هر عالم لپاره ضروري او ناګزیر امر بلل کېږي. د دې لپاره چې په روانو حالاتو او موجوده نړیوال نظم باندې پوه شو. اړ یو چې لومړی د تاریخ دریڅه خلاصه کړو. ځکه د اوسني حاکم دور او موجوده وضعیت اساسي علتونه ډېر پخواني او تاریخي شالید لري. تر څو یې چې موږ تاریخي عقبه را ونه سپړو،نو ښایي په موجوده وضعیت یې هم پوره ونه رسېږو.

د تاریخ علم موږ ته دا راپه ګوته کوي چې موږ د یوه امت په حیث څوک یو؟ له کومې خوا راغلي او پر کومه روان یو؟ د ژوند د سفر کوم مراحل مو طی کړي دي؟ د عروج په کومو مدارجو ختلي او د زوال کومو کړنګونو ته غورځېدلي یو او په ټوله کې مو د بریا او شکست عوامل څه وو؟؟ د تاریخ علم موږ ته په نړیوالو قضایاوو کې خپل حیثیت او موقف راښیي چې موږ اوس په کوم حالت کې یو او څه باید وکړو؟

### څه باید وشي؟

لوړ تفصیل ته په پام سره دا خبره باید ومنو چې تاریخ کوم داسې علم نه دی چې له نظره وغورځول شي. نو بناء اړتیا ده چې په دیني تعلیمي نصاب کې دې علم ته هم خپله ونډه ورکړل شي. په اسلامي تاریخ د ښه پوهېدو لپاره آسانه طریقه دا ده چې لومړی د اسلامي تاریخ بېلابېل مراحل په اجمال سره مبتدئینو ته تفهیم کړای شي. تر څو یې په ذهن کې د اسلامي تاریخ په اړه اجمالي نقشه رسم او ورپسې د مناسب تفصیل په ارائه کولو له کلیاتو د جزیاتو په لور سوق کړای شي.

په ټول اسلامي تاریخ عمومي او فی الجمله علم راوستل ځکه اړین دي چې د تاریخ بېلابېلو مراحل د ځنځیر د حلقو په شان له یو بل سره تړلې او د علت او معلول حیثیت لري،تر څو موږ د تاریخ د ټولو مراحلو په اړه پوهه ونه لرو او زماني تسلسل یې رامعلوم نه وي نو که په یوه مرحله کې هر څومره ډېره مطالعه او زده کړه وکړو، بیا به مو هم تاریخي پوهه نیمګړې وي.

نو بناءً دې ته اړتیا ده لکه څنګه چې د نورو علومو کتابونه تدریسېږي، د تاریخ اړوند هم باید د هرې سویې طالبانو ته د هغوی د حال موافق تاریخي کتابونه په نصاب کې داخل کړای شي. تر څو مو د نن ځوانان د پرون په هنداره کې د سبا لار تشخیص کړای شي.

# ماضي په حال کې!

خالدمشعل

نبي کریم (ص) چې په نبوت او رسالت سره مبعوث شو، درې کاله یې پټه بلنه وکړه، بیا الله جل جلاله امر ورته وکړ: «فاصدع بما تؤمروا أعرض عن المشرکین» ژباړه: اې رسوله د کوم شي چې تا ته حکم کېږي، هغه په لوړ اواز خلکو ته induced ووایه او د مشرکانو یو بخري پروا مه ساته. (حجر:۹۴) نو نبي کریم (ص) د صفا غونډۍ ته وخوت او هر یوه قوم ته یې غږ کړ، هغه مهال داسې مشهوره وه چې هر چا به مهم اعلان کولو، د صفا غونډۍ ته ختلو. د دود مطابق غونډۍ ته وخوت، خلک ورغلل، هغه ورته وویل چې پر تاسو دښمن راخېژي نو زما خبره منئ؟ ټولو وویل: موږ له تاسو دروغ نه دي اورېدلي، تل مو رښتیا اورېدلي. بیا رسول الله (ص) ورته وویل: زه تاسو ته خبر درکوم، که تاسو خپل باطل او ناوړه عقائد پرې نه ږدئ، نو د الله جل جلاله سخت عذاب درباندې راتلونکی دی. تر کومه ځایه چې معلومه ده، په نړۍ کې هېڅ انسان خپل قوم ته له دې غوره ډالۍ نه ده راوړې، کومه چې ما تاسو ته راوړې ده. ما ستاسو د دین او دنیا لپاره بری او ګټه راوړې، الله جل جلاله ما ته ویلي،چې ته دې لور ته دعوت او بلنه ورکړه. په الله (ج) قسم، که چېرې ما د ټولې نړۍ انسانانو ته دروغ ویلي وای، خو ما به ستاسو په وړاندې نه و ویلي، که مې له ټولې دنیا سره چل کړی وای، له تاسو سره به مې نه و کړی، پر هغه سپېڅلي ذات قسم چې هغه یو دی او هېڅوک یې برخه وال او شریک نه شته، چې زه تاسو ته په ځانګړي ډول او ټولې نړۍ په عامه توګه د الله (ج) استازی او رسول یم.

د مکې مکرمې مشرکان پوه شول چې د محمد (ص) په بعثت او رسالت سره د دوی د بُتانو حقیقت څرګندېږي، نو د هغه مخالفت یې برالا کړ. لوی لوی اصحاب کرام رضی الله عنهم د هغو مشرکانو له خوا سخت تعذیب شول او کېدل.

خبره دې ته ورسېده چې د محمد (ص) په بدن مبارک یې (لرې) واچولو، خو هغه له دعوت او بلنې لاس په سر نه شو، بلکې دا الهي بلنه یې خلکو ته رسوله، چې په دې لاره کې یې رنګارنګ کړاوونه ومنل، تر دې چې د مکې مشرکان راجمع شول، لیک ولیکل شول چې له بنو هاشم او بنو مطلب سره خیښي او خپلوي نه کوئ، نه به څوک په نکاح ورکوئ او نه به نکاح ترې کوئ، نور هر ډول بندیزونه یې پرې ولګول او شعب ابوطالب کې ایسار کړل. دا بندیزونه دومره کلک او سخت وو چې بنو هاشم او بنو مطلب له هر لوري ورسره مخامخ و، تر دې چې پوستکي یې وخواړه، بندیز تر درېو کلونو پورې اوږد شول، تر څو ویناوو یاده تړون پانه وخوړه، یوازې د الله جل جلاله نوم په کې پاتې و.

هو! نړیوال هم د افغانستان اسلامي امارت سره تعامل نه کوي، غیراسلامي هېوادونه خو یې نه کوي، اسلامي نړۍ هم له افغانستانه ویرېږي او تعامل ته زړه نه ښه کوي. امریکا د افغانستان شتمنې کنګل کړه، کله یو او کله بل رباب غږوي. وایي چې موږ یاده ارزي شتمنی د (۲۰۰۱ز په ۱۱/۹) د قربانیانو په وارثانو وېشوو

تعامل نه کول او یا د نړیوالو له خوا د اسلامي امارت په رسمیت نه پېژندل، دا د هغوی تېروتنه ده، په نړۍ کې ډېر داسې هېوادونه شته چې نړیوال اصول یې نه دي پوره کړي او نه یې د پوره کولو اراده لري، خو د نړۍ لوی هېوادونه هغوی په رسمیت پېژني، لکه شمالي کوریا، هلته کمونیزم رایج دی، د یو نظام په حیث پاچا او وګړي ورته منقاد دي، غاړه یې ورته ایښې، امریکا او د هغو ملګري له یاد هېواد سره غوږ نه جنګوي، بلکې امریکا غواړي چې یاد هېواد لږ ویشتل کېدونکې وسلې جوړې نه کړي.

امریکا او د نړۍ نورو هېوادونو افغانستان هم په رسمیت نه دی پېژندلی، په ملګرو ملتونو کې د افغانستان څوکۍ یې هم نه ده ورسپارلې او لا تر اوسه د هغه چارې د تېر حکومت د استازي له لوري سمبالېږي، چې دا هم د اصولو او مقرراتو خلاف دی. یاده څوکۍ باید د امارت استازي ته وسپارل شي.

د هغو هېوادونو واکمنان هوښیار دي، چې په خپلو هېوادونو کې د افغانستان سفیرانو ته څوکۍ ورکړې او کارونه یې ورسپارلي دي.

د نړیوالو له خوا د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت نه پېژندل، بس یوه دا خبره ده چې د امارت نظام اسلامي دی، پرېکړې په اسلام سره کېږي، نو ځکه یې نړیوال په رسمیت نه پېژني.

## غزل

درویش دراني

منزل لیري، لاره ورانه زه هم ستړی ته هم ستړی
څه دي خوښه ده ارمانه زه هم ستړی ته هم ستړی
نه مي ته شي هېرولای، نه زما له خیاله وزې
ځه پخلا به شو جانانه زه هم ستړی ته هم ستړی
ځغلوې که مي هر څومره ته به هم راسره ګرځې
قدم ونیسه اسمانه زه هم ستړی ته هم ستړی
د وفا په ورانو لارو بیا سفر غواړې زړګیه؟
دا خبره به شي ورانه زه هم ستړی ته هم ستړی
درویش وایي ښه به دا وي چي په ساري سره پرېږدو
اې د سرو لمبو توپانه زه هم ستړی ته هم ستړی

# خصوصیات اشعار ناصر خسرو بلخی

شیر محمد استوار

درونمایه شعر ناصر خسرو را بیشتر عقاید مذهبی واخلاقی دربر می گیرد ودیوانش سرشار از پند و اندرز وحکمت دینی بوده واو از معدود شاعران مبارزیست که با تازیانه سخن مخالفان افکار واندیشه خود را هدف قرار می دهد. ناصر خسرو در اشعارش افکار فلسفی را در سطح گسترده ی به کار برده وقصیده را به سمت وسوی نظم محض متمایل ساخته است دراشعار ناصر خسرو اعم از قصاید و مثنویاتش ،مسایل فلسفی، اخلاقی ،مذهبی پند واندرز مسایل اجتماعی باز تاب یافته است در باب علم چنین میگوید:

